ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.3 2023

# د حافظ الپورى په کلام کښې د ترکیبونوپلټنه او څېړنه

## (An analytical research of synthetic in Hafiz Alpuri's Poetry)

محمد انور ( انور نگار) پی ایچ ی سکالر شعبہ پشتو یونیورسی اف ملاکنڈ ۱

میاں محمد رب نواز ایم فل سکالر شعبہ پشتو یونیورسی اف ملاکنڈ ۲

ڈاکٹر بادشاہ روم ایسو سی ایٹ پروفیسر شعبہ پشتو یونیورسی اف ملاکنڈ ۳

**Muhammad Anwar ( Anwar nigar)**

Ph.D Scholar Department of Pashto& Oriental Languages UOM.1

**Mian Muhammad Rab Nawaz** ,

Department of Pashto& Oriental Languages UOM.2

**Dr. Badshah.i.Room**

Associate Professor Department of Pashto& Oriental Languages UOM. 3

Abstract

Hafiz Alpuri, a renowned Pashto poet, is celebrated for his ability to weave verbal and spiritual beauty into his poetry. His work exemplifies the use of synthetic techniques to enhance artistic expression. This synthesis has resulted in the creation of objective and verbally virtuous compositions, distinguishing his poetry in the literary landscape. This article delves into the intricate use of synthetic methods in Hafiz Alpuri's poetry, analyzing specific verses where these techniques are employed. Through this examination, the artistic excellence and unique stylistic contributions of Hafiz Alpuri to Pashto poetry are illuminated; showcasing how his innovative approach has enriched the poetic tradition.

Keywords : Hafiz Alpuri, Pashto, Poet, verbal, spiritual, beauty, usage , synthetic

حافظ الپوري د پښتنې خاورې هغه وياړ دے چې په يو وخت کښې د ادب او تصوف په اسمان لکه د روڼ ستوري ځلېږي ـ د حافظ الپورى ديوان

د تصوف د بارکېو سره د صنائع او بدائع هم بلها ملغري لري ـ په لاندنيو کرښو کښي د اروابښاد الپوری په کلام کښي د راوړے شوؤ ترکيبونو لنډه څېړنه کوؤ ـ خو ړومبي چي د دوي د نوم، تخلص، دوري او ځائي ځګي په حقله د څېړنکارو په مېنځ کښي کوم اختلاف موندۀ شي، په هغي مختصر بحث کؤـ ښاغلي عبدالحليم اثر افغاني په خپل تصنيف روحاني تړون کښي د حافظ صېب نوم عبدالمقتدر راښائي او د زيږون نېټه ۱۱۲۸ هجري او د وفات نېټه ۱۲۱۵هجري راوړي ـ نوموړے ليکي:

"حضرت مولانا شيخ المشائخ قدوته السالیکين اخوندحافظ عبدالمقتدر عليه الرحمته د رياست سوات د اباسيندکوهستان غوربند نومے علاقے د الپوری نومے کلي اوسيدونکے وو ـ او په دغه وجه د "حافظ الپوری" په نوم زيات مشهور دے ـ په سلسله قادريه او نقشبنديه کښي د بشونړی د حافظ اخوند محمد صديق عليه الرحمته خليفه وو ـ او په سلسله عاليه چشتيه کښي ئي د حضرت اخوند محمد صديق پهلواړي عليه الرحمته نه خلافت موندلے وو "۱

د ځاې ځائيګي د ثبوت په لړ کښي ښاغلي اثر افغاني د حافظ څېني شعرونه هم راوړي دي او دغه خيال لري چي دنوموړي په کلام کښي د حافظ ټکے د تخلص په توګه دومره په کثرت راوړے شوے دے چي د خلکو دا خيال پېدا شو چي ګني حافظ الپوری چرته په سترګو معذوره وو ـ ځکه چي پښتانه نابينا ته حافظ وائي . څنګه چي وړاندي هم ذکر وشو چي د حافظ الپوری د ذاتي ژوند په حواله يو شمېرتضادات دي ، نو په دغه لړ کښي څېړنکارډاکټر هدايت الله نعيم پوره زيار کېباسلے دے او په خپل تحقيق " ديواني مقدمه" کښي ئي بلها سوالونو ته ئي جوابونه راوړي دي ـ د مثال په ډول هغه ليکي

"تر اوسه پوري چي د حافظ الپوري کوم نومونه مخي ته راغلي دي ـ هغه دا دي:

حافظ معظم: دغه لړ کښي دقاضي عبدالسلام د ليکني تر مخه

"د حافظ صاحب اصلي نوم غالبا" حافظ معظم معلومېږي"

د حبيبي صېب مرحوم دغه مصرعه راوړي ده:

سوال د معظم که په درګاه د رب
قبلېــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــږي

د چنداخوري ابوحسين په تشريح و ترجمه د حافظ صاحب د ديوان (م: ۱۰۰) دغه مصرعه داسي ده

( همدغسي لغمان کښي هم دے)

سوال که د حافظ چرې په در د یار قبلېږي

او هم دغه مصرعه د دیوان حافظ نمبر (۱۶۷۶۷) په مخ (۸۰) داسي ده ـ

سوال که د حافظ د پاک الله په در قبلېږي ـ ۲

ښاغلي هدایت الله نعیم په دي حواله د یو شمېر سرچینو نه گټه پورته کړې ده او د هغې ئي تنقیدي جاج هم احستے دے ـ د اثر صېب د دعوي په لړ کښي وائي چې دوي د عبدالمقتدر د نوم لپاره کوم مآخذ نۀ دے راوړے او هم د دي بحث د لاندي د څېړنکار رحیم شاه رحیم دعوي راوړي چې د شجرو نه ثابیتېږي چې د حافظ خپل نوم عبدالصمد وو ـ د حافظ صېب د نوم په حقله د ښاغلي هدایت الله نعیم د بیان مرسته د تواریخ حافظ رحمت خاني نه هم کیږي ـ

"ان کا نام عبدالصمد ہے۔اور وہ نسلاً ارزڑ مندڑ یوسفزئی ی سے متعلق ہیں۔وہ ایک بڑے عالم اور اچھے شاعر تھے ان اپنا ایک کتب خانہ تھا اور وہ کتابیں اب بھی موجود ہیں مگر افسوس کہ ان کے ورثا کسی کو دینا نہیں چاہتے۔جس وقت مندڑ لوگ بالائی ی حصہ میں رہائش پذیر تھے تو یہ بھی ان کے ساتھ وہاں رہے اور وہیں الپوری کے مقام پر ھ میں وفات پاکر مدفون ہوئے۔ ان کے متعلق یہ بہت ہی مختصر حالات بمقام چکیسر جناب صدف صاحب جو چکیسر کا قاضی ہیں، نے بتائے صدف صاحب مذکور کا نسلی تعلق یوسفزئی کی ذیلی شاخ مرلی خیل سے ہے۔ انہوں نے مجھے چند قلمی کتابیں بھی عنایت کیں۔"۳

د حافظ الپوری کلام یو شمېر معنوي ، لفظي او فني خوبی لري . خو دلته د څېړني د موضوع په اساس په دي مقاله کښي د حافظ په کلام کښي د ترکیبونو په حواله مباحث راوړلي شي .

د هر ې ژوندی ژبې یوکمال دا هم دے چې هغه د وخت او ضرورت سره د نورو ژبو نه نوي تکي راخپلوي او خپله لمن پرې پراخوي ـ په دي طریقه یوه ژبه د وخت د نوؤ غوښتنو سره سیالي کولي شي او د ویونکو علمي ضرورتونه هم پوره کولي شي ـ په دي لړ کښي د اشتقاق او ترکیب بندی کردار د اهمیت وړ دے ـ په اریائي ژبو کښي د لفظونو جوړښت څنگه کیږي، په دي حواله پوهاند صدیق الله ریښتین لیکي : "لکه چې څرگنده ده په په هندو ژرمانیک ژبو یعني آریایي ژبو کښي د الفاظو جوړښت په دري طریقو رامېنځ ته کیږي:

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.3 2023

**(الف) د پسینه ؤ (لاحقو) د ورزیاتولو په وسیله لکه : ختګر، زرګر**

**(ب) د سرینه ؤ (سابقو) د ورزیاتولو په وسیله لکه: ناکردي، ناخوالي**

**(ج) د دوو خپلواکه کلمو د ګډون په وسیله لکه: سپین سترګے، سر کوزے "**
**۴**

پښتو هم چونکه یوه لرغوني اریائي ژبه ده او ځېنې ژبپو هان ئې د ا ریائي ژبو مور ګڼي ځکه نو د لفظونو جوړښت پکښې په بره درې واړو طریقو/لارو سره کېږي او داسې ئې لمن پراخېږي ـ تر کومې چې د ترکیبونو علاقه ده ، نو ترکیب د وړاندې نه موجود د دوو ټکو یو ځائے کیدو په نتیجه کښې جوړیږي ـ چې بیا هغه توري ځانله ځانله معنې نۀ ورکوي، بلکې د ترکیب شوي لفظونو نه نوي توري جوړوي او نوې معنې ورکوي ـ ښاغلے ډاکټر سهیل بخاري مرکب داسې تعریفوي:

**ژباړه: د دوه مختلف ټکو مجموعې ته مرکب وائي ـ خو کله د مرکب دواړه ټکي معنې لري او کله یو ټکے د معنې او بل بے معنې یعنې محمل وي ـ دغه د معنې په لحاظ د مرکب دوه قسمونه وي یعنې پوره معنې والا ترکیب چې دواړه ټکي ئې معنې ورکوي او کله جزوي معنې والا چې یو ټکے ئې د معنې او بل محمل وي ـ۵**

ښاغلي حافظ الپوري په خپل کلام کښې ترکېبونه داسې ځاي کړي دي لکه زرګر چې په ګوتمو کښې غمې ځایوي ـ موصوف چې په خپل کلام کښې کوم تراکیب راوړي دي ، د هغې نه د نمونې په ډول په لاندینو کرښو کښې ځېنې د لنډې پېژندګلو سره بیانولې شي ـ

۱ ـ اسم او اسم :

دا هغه مرکب وي چې دواړه ټکي ئې نومونه وي او د دې نه یو بل لفظ په وجود کښې راغلے وي ـ
لکه د حافظ الپورى په لاندې دوه شعرونو کښې د مېړتون او هند و سند دوه ترکیبونه وګورئ :.

د بېل بېل اشنا بېلتون مې زړۀ غلبېل کړو
مېړتون مې ځیګر خوري تن مې کړېږي ۶

مېړ د مېړې مختصر حالت دے ، او مېړے اسم دے ، دغه شان " تون " اسم مکان دے چې د ځاے معنې لري .

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.3 2023

هند وسند:

چي هند وسند ئې ایله ول ایران
تـــــوران احمـــــد شـــــاه
د سلطنت له با غه لاړ برخوردار
پـــــاتي نـــــهٔ شـــــو ۷

۲ ــ اسم او فعل(Noun + Verb)

کله چې یو ټکے اسم وي او بل فعل وي نو بیا د هغې نه هم شاعران نا اشنا تراکیب جوړوي . د حافظ الپورى د کلام دا نمونه ئې ولولئ . :

مېدان کوتاه شو ساعت تنګ د صحت
طمـــــــــع نشـــــــــته
تریاق به څنګه له عراق تر
مـــــــارخوړلي راشــــــــي ۸:

کواکبو مکب پرمخي ارتاؤ کړم
لکه ولویږي راکب د اس د شانه ۹

ډېر عمر طاعت برصیا کړے اوبو
یـــــــــــــــــــــوړو
نفس شیطان رسوا کړو په عصیان
جـــــامي ککـــــړې ــ ۱۰

نهٔ به اوبهٔ د فراق وچې شي زما
د ســـــــــــــــــترګو
نهٔ به د یار په در دیار اوبهٔ
خـــــــــوارهٔ راشـــــــــي ۱۱

په دغه پورته شعرونو کښې د مارخوړلي ، پرمخي او د اوبهٔ خوارهٔ تراکیب راوړي شوي دي ، چې پکښې د اسمونو او فعلونو ترون جوت په نظر راځي .

۳ ــ اسم او اسم صفت:

دا قسم مرکب هغه وخت په وجود کښې راځي کله چې یو لیکوال اسم او اسم صفت یو ځاے پکار راولي او د دواړو د تړون نه یو نوے ترکیب مېنځ ته راشي کله د مثال په ډول د حافظ الپورى دي لاندیني شعرونو کښې چې د عنبر بویه ترکیب راغلے دے :

د هجران ګنده بوئي مې مشام ونیـــــو
د وصال نسیم ارسال که عنبر بویـــه ۱۲

خلیفه د قارون نهٔ یم چې مال غــواړم
حریرپوشه، سیم اغوشه، عنبر بویـــه ۱۳

۴ ـ اسم صفت او اسم صفت:

په دا رنګه ترکیب کښې شاعر دوه اسم صفت رایو ځاے کوي . او دخپل کلام معنوي ښکلا پرې زیاتوي . د نمونې په توګه د حافظ دي شعرونو ته ځیر شئ.

قد قامت ئې د شمشاد بوئ د چنــدنو
شان شوکت د ښاپېرى خندا حوري کــه ۱۴

په دي شعر کښې شان شوکت هم یو ترکیب دے ـ

کړے روزے ئې کړه د اختر میاشت ده
عام و خاص ئې د دیدن طمعداري که ۱۵

د صراط په عبور خلاص شي له ثبوره
مومنان جنت له ځي چست و چالاک

شي ۱۶

چې به لښکر د بحر و بر ورته په در ولاړ ؤ
هغه اوس خوار لکه نیستګار په ډېر ارمان پراته دي۱۷

چې په بستر به ناز پرور شام وسحر پراته وو
هغه نیازبین اوس بې بالین خوار و حیران پراته دي ۱۸

په دغه شعرونو کښې د قد قامت ، عام و خاص ، شان شوکت ، چست و چالاک ، بحر وبر او شام وسحر د بره ذکر شوي ترکیب مثالونه دي

۵ ــ تړلے مرکب:

دا هغه تراکیب دي چې د عطف د حروف په وسیله د یو بل سره تړلے شي، په دې کښې څه د "و" (واو) په ذریعه او نور او ځېنې د (زېر) په ذریعه جوړیږي ــ حافظ الپوری دغه ترکیبونه داسې راوړي دي . :

هر یار خوش صفات ؤ په خوئ شهد قند نبات ؤ
یا آب حیات وو په دیدن ئې شادماني شوه ۱۹

د مومن په مخ رنا په صراط سم ځي
په تورتم به منافق اهل اشراک شي ۲۰

ښائسته زنه ئې منه د جنتونو
په زبېښل ئې عاشق هېر قند وتري که ۲۱
د نیاز منو منزل زیر زمین ساز شو
څه کرم زیست له دې ناسازو اغېړلو۲۲
:

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.3 2023

اهل دنيا سپي دي په مرداري
خـــــــــــــــــــــړاوه كـــــــــــــا
ځان مۀ كړوه د سپو په جنګ په
شـــــــــــــــــــــــــــدتونه ۲۳
:
غافله دين دي اواره كړو د دنيا
غـــــــــــــــــــــــــــــم ژاړي
اب زم زم درڅخه ورک شو بالوعا
تـــــــــــــــــــــــــــه لاړي۲۴

شب قدر ۋ په ورځي كاروان
بيامونـــــــــــــــــــــــــــد
د ما لک په څېر سودمن به كوم
تـــــــــــــــاجر شـــــــــــــي ۲۵

دي شعرونو كښي د آب حيات ، اهل اشراک ، قند و تري، زير زمين ، اهل دنيا، آب زم زم ، شب قدر د تړلي مركب يا تركيب رانه مثالونه دي .

۶ ــ تكراري مركب:

څنګه چي د نوم نه ښكاره ده ــ په تكراري مركب كښي يو ټكے بيا بيا استعمالولے شي چي مقصد ئې خبره كښي زور او تاكيد پېدا كول وي ــ دلته دا خبره هم د ذكر وړ ده چي په تكراري مركب كښي د هر ټكي خپل اصل حالت په ځائے ساتلے شي ــ په دي لړ كښي ډاكټر سهيل بخاري ليكي :

**ژباړه:'' زمونږه سره چي څنګه د يو اواز د دوه واري وئيلو رواج دے كوم ته چي تشديد وئيلے شي دغه شان يو ټكے هم دوه ځل وائيو ــ لكه څنګ چي وړاندي ذكر شوے دے چي تشديد په آريائي ژبو كښي نه ليدل كېږي فقط په عربي (سامي) او هندوستاني ژبو كښي اوريدل كېږي ــ خو يو ټكے د دوه ځله وئيلو روايت په عربى كښي نشته دے او دا صرف هندوستاني ژبو سره خاص ده ــ او ډير عام هم دے ــ زمونږ په ژبو كښي د ټكي د تكرارولو څو مقصدونه وي ''۲۶ــ**

د حافظ الپورى په شاعرى كښي د تكراري تركيبونو يو شمېر نموني په لاس راځي ــ چي دلته تړې څو مثالونه ذكر كولے شي ــ

زلفي چي تار تار كړي بوئ خجل شي د
عنبـــــــــــــــــــــــــــــــرو

مشک د سیالی پریوځي د تاتار د ختن
لا ۲۷

تن اوړۀ اوړۀ که سپین چندڼ په سنګ
سولېږي
ورسي هله د ماه جبینو و جبین ته
۲۸

ترکومه پوري به پرواز کړي په دا
لند میدان کښې
د مرګي ښکار شوي ستا په شان هزار
هزار ګوشاړي ۲۹

دور د دوران دے چې ګردش ئې په شان
شان دے
شاه له تخته کوز کا خواهنده
د درویزي ۳۰

حلال دي له حرامو پرهېز کا
مدام
لکه د اوښ غوندي په دواړ جامو
شخوند ونۀ کړي ۳۱
:
نۀ بیا فرهاد سرتور غرونه سوري کا
نۀ بیا ورته شیرینه په زار زار شي
۳۲

چې بیلتون ئې په زړۀ نوے نوے
داغ ږدي
سوز ګداز کله کمېږي د داغلو۳۳

ددغه لوړو شعرونو نه ښکاره ده چې په دغه کښې تار تار، اوړۀ اوړۀ: ، شان شان ، حلال حلال ، هزار هزار ، نوے نوے ، تکراري ترکیبونه پکار راویستي شوي دي .

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.3 2023

۷ ــ منځتاني مرکب

د منځتاني مرکب جوړښت په دا ډول وي چې د يوشان تورو ترمېنځ يو حرف راځي چې د دې سره يو نوې ترکيب په وجود کښې راځي ــ لکه د حافظ الپورى دا شعرونه :

نفس دې امير روح دې اسير شو
فهم وکه څه خو
سپينه کټه باز وې رېز مرېز کړې
دې کوټه په داړې ۳۴

شهسوار پسې کۀ سم برابر نۀ ځي
په ويجاړه کښې به پاتې شي
راجله ۳۵

په تختونو مخامخ ناست لا خوبانو
همېشه به وي رڼا محوه مغاک شي
۳۶

په دغه لوړو شعرونو کښې د ، رېز مرېز، برابر او مخامخ، تراکيب د مينځ تاني مرکب مثالونه دي. د حافظ په کلام د ترکيبونو شمېر په سلګونو کښې دے چې د هغې احاطه يو مضمون کښې کول ناشوني دي، ځکه د نمونې په ډول په ذکر شعرونو اکتفا کولې شي ــ بو بله خبره د يادونې وړ ده چې د ذکر قسمونو نه پرته د ترکيبونو نور قسمونه هم شته لکه صوتي مرکبات، د مستعارو ژباړه ترکيبونه او داسې نور چې د ژبو په پراخې کښې لوے لاس لري ــ په هر طور د دغه بره تحقيقي طالعې نه مونږ په دې نتيجه رسو چې د حافظ الپورى په شاعرى کښې د ترکيبونو استعمال په خلاص مټ شوے دے او هغه په دغه ترکيبونو د خپل کلام لفظي او معنوي ارزښت يوه په دوه سېوا کړے دے.

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.3 2023

حواله جات: (References)

1. اثر افغاني، عبدالحليم، روحاني تړون، يونيورسټی بک ايجنسي پېښور ، س . ن ، دويم جلد ، مخ ۷۵۶
2. هدايت الله نعيم ، ډاکټر، ديواني مقدمه، ملت ايجوکېشنل پرنټرز، لاهور، کال ۲۰۰۰، مخ ۱۹، ۲۰
3. تواريخ حافظ رحمت خاني، اعراب پرنټرز، نديم ټريډ سنټر، محله جيګي ، پېښور، کال ۲۰۱۷، مخ ۶۱۲
4. ښتين، صديق الله، پښتو ګرائمر، خپرونکي يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، کال ۱۹۹۴، يونيورسټی ايجنسي پېښور، مخ ۴۰۴
5. سهيل بخاري، ډاکټر، تشريخی لسانيات، ، جعفر رضا ــ اے ، ۱۰۳ سيکټر ۱۱بی، نارته کراچی، کال ۱۹۹۸ء، مخ ۱۴۸
6. حافظ الپوری، ديوان ،شعيب سنز، سوات مارکيټ، مينګوره سوات، کال ۲۰۲۰ ء مخ ۱۷۴
7. ديوان حافظ الپوری (افغاني) ، مؤلف عبدالسلام زيارتي ، حجازي پريس لاهور ، ۱۹۴۰ء ، مخ ۱۶۹
8. حافظ الپوری، ديوان ،شعيب سنز، سوات مارکيټ، مينګوره سوات، کال ۲۰۲۰ ء ، مخ ۱۶۹
9. هم دغه اثر، مخ ۱۸۵
10. هم دغه اثر، مخ ۲۲۹
11. ديوان حافظ الپورئ، پبلشرز افتخار بک سنټر، مينګوره سوات، کال ۲۰۰۶ ء ، مخ ۵۴
12. حافظ الپوری، ديوان ،شعيب سنز، سوات مارکيټ، مينګوره سوات، کال ۲۰۲۰ ء، مخ ۱۰۴
13. هم دغه اثر، مخ ۱۲۰
14. ديوان حافظ الپورئ، پبلشرز افتخار بک سنټر، مينګوره سوات، کال ۲۰۰۶ ء ، مخ ۸۱
15. حافظ الپوری، ديوان ،شعيب سنز، سوات مارکيټ، مينګوره سوات، کال ۲۰۲۰ ء، مخ ۲۵۷
16. هم دغه اثر، مخ ۲۶۴
17. هم دغه اثر، مخ ۲۵۲
18. هم دغه اثر، مخ ۲۵۲
19. هم دغه اثر، مخ ۲۵۰
20. هم دغه اثر، مخ ۲۵۷
21. هم دغه اثر، مخ ۱۲۱
22. هم دغه اثر، مخ ۲۶۰
23. هم دغه اثر، مخ ۲۴۲

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.3 2023

24. هم دغه اثر، مخ ۱۸۰
25. هم دغه اثر، مخ ۲۰۶
26. سهیل بخاري، ډاکټر، تشریخی لسانیات، ، جعفر رضا ــ اے ، ۱۰۳ سیکټر ۱۱بی، نارته کراچی، کال ۱۹۹۸ء ، مخ ۱۶۵، ۱۶۴
27. حافظ الپوری، دیوان ،شعیب سنز، سوات مارکیټ، مینگوره سوات، کال ۲۰۲۰ ء، مخ ۱۰۱
28. هم دغه اثر، مخ ۱۰۵
29. هم دغه اثر، مخ ۱۸۱
30. هم دغه اثر، مخ ۲۱۸
31. هم دغه اثر، مخ ۲۲۴
32. هم دغه اثر، مخ ۲۷۲
33. هم دغه اثر، مخ ۲۶
34. هم دغه اثر، مخ ۱۸۱
35. هم دغه اثر، مخ ۲۱۳
36. هم دغه اثر، مخ ۲۵۸